امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



# هفته نامه
# مدیریت حوادث

۸ الی ۱۳ سنبله ۱۴۰۴

## شماره یکصدو بیستم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لورې ۴۲.۵ ټنه مرسته شوې خوراکي توکي ترلاسه کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د یوې خبری ناستې په ترڅ کې په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لوری د لغمان، کنړ او ننګرهار ولایتونو زلزله ځپلو لپاره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه ۴۲.۵ ټنه مرسته شوې خوراکي توکي ترلاسه کړل.
په دې مراسمو کې، محترم ترابي صاحب، په مسکو کې مېشت د افغان بزنس سنټر له رئیس، محترم حاجی نادرشاه، څخه د منني او قدرداني ترڅنګ زیاته کړه چې دغه مرستې ۱۰۰۰ بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، ۱۰۰۰ بورۍ ۱۲.۵ کیلویي...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ۱۴ کاری کمېټو څخه راپور واخیستی




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۹ نېټه د یوې مهمې غونډې پر مهال د ۱۴ کاری کمېټو د استازو او کارکونکو څخه د نن ورځې راپور واخیستی...

ادامه در صفحه۲

## په افغانستان کې د چین هېواد د سفارت او سوداګرو لخوا د کونړ ولایت له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ته د یو رسنیز کنفرانس په ترڅ کې وسپارل شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداری عمومی رییس، محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار په افغانستان کې د چین هېواد له شارژدافیر ښاغلي باؤ شوهوی څخه د یاد هېواد د سفارت او سوداګرو له لوری د کونړ...

ادامه در صفحه۳

## د پیښو چارو د همغږۍ معین په میدان وردګ ولایت کې د دوو مهمو پروژو د جوړولو له بهیر څارنه وکړه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پیښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجی وارث)، میدان وردګ ولایت ته د خپل رسمی سفر په جریان کې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه د دې ولایت...

ادامه در صفحه ۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لوری ۴۲.۵ ټنه مرسته شوی خوراکی توکی ترلاسه کړل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د یوې خبری ناستې په ترڅ کې په روسیه کې مېشت د افغان سوداګر له لوری د لغمان، کنړ او ننګرهار ولایتونو زلزله ځپلو لپاره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه ۴۲.۵ ټنه مرسته شوی خوراکی توکی ترلاسه کړل.
په دې مراسمو کې، محترم ترابی صاحب, په مسکو کې میشت د افغان بزنس سنټر له رئیس، محترم حاجی نادرشاه، څخه د مننې او قدردانۍ ترڅنګ زیاته کړه چې دغه مرستې ۱۰۰۰ بوری ۲۵ کیلویی اوړه، ۱۰۰۰ بورۍ ۱۲.۵ کیلویی وریجې او ۱۰۰۰ بوتله ۵ لیټره غوړی دی، چې په ټولیز ډول ۴۲.۵ ټنه خوراکی توکی جوړوی.
همدارنګه، د ادارې لوی رئیس زیاته کړه چې حاجی نادر شاه تل زمونږ د ادارې سره یې بې غرضه مرستې کړې او دا ځل یې هم پرته له کومې غوښتنې، د زلزله ځپلو د ملاتړ لپاره دا سخاوتمندانه مرسته وکړه چې دغه توکی به د دقیقې سروې وروسته په شفافه او عادلانه توګه پر زلزله ځپلو کسانو وویشل شی ترڅو د دوی اړتیاوې په اغیزمنه توګه پوره شی.
ښاغلې ترابی صاحب زیاته کړه چې په داسې سختو حالاتو کې د حاجی نادر شاه په څیر د نورو سوداګرو او خلکو څخه هیله کوو چې د زلزله ځپلو د لاسنیوې لپاره مرستې وکړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ۱۴ کاری کمېټو څخه راپور واخیستی

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۹ نېټه د یوې مهمې غونډې پر مهال د ۱۴ کاری کمېټو د استازو او کارکونکو څخه د نن ورځې راپور واخیستی.
د بېلابېلو کمیټو استازو او کارکونکو یو په بل پسې راپورونه وړاندې کړل او په دغو راپورونو کې د هغو کارونو یادونه وسوه چې د تېرو ورځو په جریان کې ترسره کړی وه، د خلکو سره د مرستې، د ستونزو د حل او د بیړنیو پېښو په وړاندې د چټک غبرګون په برخه کې بېلابېلې لاسته راوړنې بیان سوې.
ورسته ترابی صاحب په خپلو خبرو کې د ټولو کمېټو له مسؤلینو له هڅو مننه وکړه او ویې ویل د خلکو خدمت زموږ لپاره عبادت دی او هر څوک باید دا دنده په اخلاص، صداقت او پر وخت ترسره کړی.
نوموړی پر دې ټینګار وکړ چې د هر مسؤل وجیبه ده  چې د خلکو ستونزه خپله ستونزه وبولی او د حل لپاره یې تر اخېری حده هڅه وکړی همدا راز ترابی صاحب وویل موږ ټول د یوې واحدې موخې لپاره سره یو ځای سوی یو او هغه موخه د خلکو خدمت،  زیانمنو کورنیو ته رسیدګی  او د ستونزو مخنیوی دی.



# په افغانستان کې د چین هېواد د سفارت او سوداګرو لخوا د کونړ ولایت له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ته د یو رسنیز کنفرانس په ترڅ کې وسپارل شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی ریيس، محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار په افغانستان کې د چین هېواد له شارژدافیر ښاغلی باؤ شوهوی څخه د یاد هېواد د سفارت او سوداګرو له لوری د کونړ ولایت له زلزله ځپلو سره شوې نغدې مرستې د یو رسنیز کنفرانس په ترڅ کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۹ نېټه ترلاسه کړې.

ښاغلی عالمیار صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترځنګ وویل، چې موږ د چین هېواد له همکاریو او مرستو څخه ځانګړې مننه کوو او د چین هېواد د افغانستان یو ښه دوست او ګاونډی هیواد دی او تل یې زموږ له ولس سره په بد وخت کې مرستې کړې دی او موږ په هره برخه کې د یاد هېواد سره دوستانه اړیکې لرو.

محترم عالمیار صاحب وویل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس دا مهال له خپل تخنیکی او مجهزو ټیمونو سره په زلزله ځپلې سیمه کې شتون لری او زیانمنو ته د لټون، ژغورنې او مرستو رسولو په چارو بوخت دی. نوموړی وویل چې د افغانستان اسلامی امارت زلزله ځپلو ته د مرستو رسولو په موخه خپل ټول امکانات په کار اچولی او له ټولو ملی او نړیوالو مرستندویه سازمانونو سره مو هم زیانمنو ته د رسېدنې په اړه بشپړه همغږۍ کړې ده.

ورپسې، د دې ادارې د دفتر رییس محترم مولوی صاحب فضل الباری جواد، له یاد پلاوی څخه د غمشریکۍ له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې له چین هېواد څخه د وروستیو زلزله ځپلو لپاره په روغتیایی، خوراکی، غیر خوراکی، موقتی او دایمی سرپنا جوړولو برخه کې د چټکو مرستو د کولو غوښتونکی یو.

په دوام یې، د دې ادارې د مقام سکرتر، محترم ملا سید احمد عثمانی هم د چین هېواد د سفارت او شرکتونو له مسؤلینو څخه، له زلزله ځپلو سره د مرستو کولو له امله مننه او د ورته نورو مرستو غوښتنه وکړه.

همداراز، د نړیوالو اړیکو ریاست آمر برهان الدین شینواری وویل، چې د افغانستان لپاره د چین سفارت لومړنی سفارت دی، چې له موږ سره یې د کونړ د غمیزې په پار غمشریکی وکړه او مرستې کولو ته یې چمتووالی وښود، نو له همدې امله ورڅخه د زړه له تله مننه یو.

په همدې حال کې، د چین شارژدافیر ښاغلی باؤ شوهوی د افغانستان له خلکو سره په وروستۍ غمیزه کې ځان شریک وباله او ویې ویل، چې د چین هېواد ولسمشر هم د آسیا هېوادونو د ولسمشرانو په غونډه کې له زلزله ځپلو سره خواخوږی څرګنده کړې ده او همدا راز یې وویل چې زموږ د بهرنیو چارو وزارت هم دا اعلامیه خپره کړې ده چې په دې سختو حالاتو کې باید د افغانستان له زلزله ځپلو سره مرستې ترسره شی.

همدرانګه ښاغلی باؤ شوهوی، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ته د چین هېواد د سفارت د ډیپلوماټانو او په افغانستان کې د یاد هېواد د شرکتونو لخوا شوې څلوېښت زره او اته سوه او لس (۴۰,۸۱۰) ډالره نغدې مرستې وسپارلې.

د یادونې وړ ده، چې په افغانستان کې د چین هېواد د شرکتونو مسؤلینو وویل، چې نن شپه به زموږ لخوا په دوو لویو موټرونو کې د کونړ ولایت زلزله ځپلو سیمو ته مرستې ولېږدول شی او زیاته یې کړه چې د زلزله ځپلو لپاره نورې خوراکی او غیرخوراکی مرستې هم د برابرېدو په حال کې دی.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رئیس لخوا د چین هېواد شارژدافیر او د شرکتونو مسؤلینو ته ستاینلیکونه ورکړل شول او د هغوی له مرستو او همکاریو څخه یې مننه او قدردانی وکړه.

# د پیښو چارو د همغږۍ معین په میدان وردګ ولایت کې د دوو مهمو پروژو د جوړولو له بهیر څارنه وکړه




له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پیښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، میدان وردګ ولایت ته د خپل رسمی سفر په جریان کې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه د دې ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس، محترم الحاج مولوی فیض الله جلال سره یوځای، د دوو مهمو عامه المنفعه پروژو د جوړولو او پلی کولو څارنه او بیالیدنه وکړه.

په دې سفر کې، د پیښو چارو د همغږۍ معین لومړی د نرخ ولسوالۍ د ده خرقه په کلی کې د پل د جوړولو له پروژې لیدنه وکړه. دا پل، چې د معیاری تخنیکونو سره سم د جوړېدو په حال کې دی، د ۱۳ مترو په اوږدوالی، ۴ مترو په عرض او ۳.۱ مترو په لوړوالی سره به جوړ شي او ټول ارزښت یې ۱۰۰۰،۰۰۰ (یو ملیون) افغانیو ته رسیږي. د دې پروژې پلی کول به د کلی او شاوخوا سیمو اوسیدونکو ته د سیمه ییز ترانسپورټ او تګ راتګ په برخه کې د پام وړ اسانتیاوې برابرې کړي.

همدارنګه، د پیښو چارو د همغږۍ معین د میدان وردګ ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداری ودانۍ د جوړولو پروژې څخه لیدنه وکړه. دا ودانۍ په دریو پوړونو کې جوړیږي او ټول ارزښت یې ۱۳،۰۰۰،۰۰۰ (دیارلس میلیونه) افغانۍ اټکل شوی دی. د دې ودانۍ په بشپړېدو سره به د دې ولایت خلکو ته د چټکو او اغیزمنو خدماتو د وړاندې کولو لپاره اړین اداری امکانات او اسانتیاوې برابرې شي.

محترم ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) خپلې څارنې په جریان کې، ټینګار وکړ چې له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره د ولایت په کچه د زیربناوو او خدماتو پروژو پلی کولو ته ژمنه دی او هڅه کوی چې د معیاری پروژو په پلی کولو سره خلکو ته د غوره خدماتو او د طبیعی پیښو د قربانیانو د پاملرنې لپاره مناسب امکانات چمتو کړی.

د پروژې د چارواکو څخه د مفصل راپور ترلاسه کولو وروسته، د پیښو چارو د همغږۍ معین د پروژې په شفاف، ګړندی او معیاری پلی کولو ټینګار وکړ او سپارښتنه یې وکړه، چې د پروژې د پیاوړتیا او پایښت ډاډمن کولو لپاره د کیفیت لرونکی موادو څخه کار واخیستل شي.

د یادونې وړ ده، چې دواړه پورته ذکر شوی پروژې د پلی کېدو په حال کې دی او د کاری پلان سره سم پرمخ روانې دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري لوی رییس د دې ادارې له ولایتی مسؤلینو سره د هغوی د چارو د ارزونې په اړه آنلاین غونډه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری عمومی رییس؛ محترم الحاج مولوی محمد عالم علمیار د ۳٤ ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو له رئیسانو د هغوی د کړنو د ارزونې په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۶ نېټه د آنلاین غونډو د ترسره کولو لړۍ پیل کړه.

د دې آنلاین غونډې پیل، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د دفتر ریاست رییس؛ محترم مولوی عبدالباری جواد د قرآنکریم په څو مبارکو آیتونو سره وکړ.

ورپسې د کار کوونکو چارو رییس؛ محترم الحاج مولوی محمد عابد نعمانی د یادې غونډې د نیولو په اړه معلومات وړاندې کړل او اړوند مسؤلینو ته یې د چارو د ښه تر سراوی او د غوره خدماتو د وړاندې کولو دوعا وکړه.

په دوام یې، د دې ادارې ولایتی رییسانو د خلپو ترسره شویو کارونو، پلانونو او نورو اړوند چارو په هکله خبرې وکړې.

د یادونې وړ ده، چې په دې غونډه کې د مرکزی زون د پنځو ولایتونو د رییسانو ارزونه ترسره شوه، چې د ارزونې دا لړۍ به د هېواد له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د ۳٤ ولایتونو له رییسانو څخه دوام ولری.

---

## د پېښو چارو د همغږۍ معین په پاتو ولسوالۍ کې د دوو پلچکونو د جوړېدو له بهیر څخه څارنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث) دایکندی ولایت ته د خپل رسمی سفر په ترڅ کې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۶ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم الحاج مولوی حبیب‌الله رهنما او د پاتو ولسوال په ملتیا د پاتو ولسوالۍ د وګیر او فتحزی کلیو د دوو پلچکونو د جوړېدو له بهیر څخه څارنه وکړه.

دغه پروژې ټولټال د یو میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانیو په ارزښت، د پلی کېدو په حال کې دی او لومړی پلچک ۴ متره اوږدوالی، ۳.۶۰ متره پلنوالی او ۲ متره لوړوالی لری، او دوهم پلچک ۵ متره اوږدوالی، ۳.۶۰ متره پلنوالی او ۲ متره لوړوالی لری. د دغو پروژو له بشپړېدو وروسته به، د مسافر وړونکو او بار وړونکو وسایطو تګ راتګ په آسانه او معیاری ډول ترسره شي.

محترم څارنوال صاحب د لیدنې پر مهال وویل، د وقایوی پروژو پلی کول د خلکو د ځانی او مالی زیانونو د کچې په راکمولو کې مرسته کوی او د هېواد د بنسټیزو جوړښتونو د خوندیتوب لامل ګرځی. د همدې لپاره دا ډول پروژې د ادارې په لومړیتوبونو کې ځای لری او اوس مهال په وګیر او فتحزی کلیو کې دوه مهمې پروژې د پلی کېدو په حال کې دی.

د پېښو چارو د همغږۍ معین، د پروژې د مسؤلینو د تفصیلی راپور تر اورېدو وروسته، د پروژې پر شفاف، چټک او معیاری ډول پلی کېدو ټینګار وکړ او لارښوونه یې وکړه چې د لوړ کیفیت مواد دې وکارول شی، تر څو د پروژې استحکام او پایښت تضمین شی.

د یادونې وړ ده، چې د دې پروژې له پیل څخه مخکې، په دې لاره کې د وسایطو په تګ راتګ کې جدی ستونزې موجودې وې، چې له بشپړېدو وروسته به یې د خلکو ستونزې راکمې او د تګ راتګ بهیر اسان کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د ارزګان ولایت له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابی، په خپل کاری دفتر کې د ارزګان والی، محترم مولوی عنایت الله شجاع سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۶ نېټه وکتل.

ښاغلي ترابی صاحب په خپلو خبرو کې وویل چې زموږ اساسی موخه دا ده چې د خلکو ژوند اسانتیاوی وسومی او د بیارغونې کارونه په ټولو ولایتونو کې په عادلانه ډول پرمخ ولاړ سی.

همدا راز ترابی صاحب وویل چې موږ به د ارزګان ولایت د پروژو ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړو او د پلونو جوړېدل نه یوازې د خلکو د تګ راتګ ستونزې حلوی، بلکې د ژوند بیلابیلی نوری اسانتیاوی هم برابروی.

د ارزګان والی، محترم مولوی عنایت الله شجاع وویل چې زه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې له لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابی صاحب څخه مننه کوم چې د ارزګان خلکو ته یې ځانګړې توجه کړې ده او زیاته یې کړه چې د چوری، وانو، چیلنګر، سرخوم، او بلاغ پلونه د ارزګان د خلکو اوږد مهالو اړتیاوو یوه برخه ده.

په پای کې دواړو مشرانو ټینګار وکړ چې د خلکو اړتیاوې باید په لومړیتوب کې ونیول سی او ټولې پروژې په شفاف ډول پرمخ ولاړې سی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان ترمنځ د افغانستان د اقلیمی زیانمنتیا په اړه تخنیکی ناسته ترسره شوه




له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی ادارې او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ترمنځ د افغانستان د اقلیمی زیانمنتیا د ارزونې (Afghanistan Climate Vulnerability Assessment - ACVA) د دویم پړاو د بشپړېدو په اړه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۷ نېټه تخنیکی ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې د یادې ادارې له لوری د بهرنیو اړیکو آمر برهان‌الدین شینواری، د معلوماتی ټکنالوژۍ آمر وحیدالله واقف، د پېښو د مدیریت د ملی سیستم آمر سمیع‌الله حیات، مطیع الله احمدزی، د خطر د کمولو او سیلاب کارپوه او د IOM له لوری د اقلیمی بدلونونو د ارزونې رئیس الهمدانی او د اقلیمی بدلونونو په برخه کې همکار شریف جلالزی ګډون درلود.

په دې ناسته کې د هغې عمومی سروې پایلې وڅېړل شوې چې په ټول هېواد کې ترسره شوې وه. دغه سروې د ولسوالیو او کلیو په کچه د سیلابونو، زلزلو، د خاورې د ښوېدو او نورو اقلیمی خطرونو په وړاندې له خطر سره مخ د سیمو کره ارزونه شامل دی, چې راټول شوی معلومات به د نړیوالو پانګونو د جلب او راتلونکو پروګرامونو د پلان جوړونې لپاره د بنسټ په توګه وکارول شی.

یاده ارزونه د اقلیمی خطرونو د تحلیل او د پېښو د مدیریت او ملی چمتووالی په برخه کې د پرېکړو نیولو لپاره مهم رول لری.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کونړ په نورګل ولسوالۍ کې د مزار درې زلزلې ځپلي ودېرو کلي ته ورسېد

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، د یو تخنیکی او مجهز پلاوی په مشرۍ د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۸ نېټه کونړ ولایت ته له رسېدو وروسته د زیانمنو د وضعیت د څېړنې لپاره دوه ساعته مخکې د دې ولایت د نورګل ولسوالۍ د مزار درې زلزله ځپلی ودېرو کلی ته ولاړ.

محترم ترابی صاحب په زلزله ځپلی سیمه کې د زیانمنو کورنیو له غړو سره وکتل او زیانمنو ته د رسېدنې چارو لپاره یې بېلا بېلې کمېټې وټاکلې. نوموړی د کمېټې غړو ته لارښوونه وکړه چې د هرې سیمې شهیدان او ټپیان باید په بېړنۍ توګه له وېجاړو شویو کورونو څخه را و اېستل شي او ټپیان دې ژر تر ژره د ننګرهار ولایت روغتونونو ته ولېږدول شي.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ټیمونه په سیمه کې د لټون او ژغورنې په عملیاتو بوخت دی او د اړینو بشری مرستو کاروان زلزله ځپلو سیمو ته لېږدول شوی دی.

## ورستیو زلزله ځپلو ته د کومک رسېدنې په موخه بېړنۍ غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د مالی او اداری رییس؛ محترم الحاج مولوی محمد علم عالمیار په مشرۍ د هېواد په کچه د ملی او نړیوالو مرستندویه سازمانونه او مؤسسو سره وروستۍ زلزله ځپلو ته د پر وخت رسېدنې په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۸ نېټه د دې ادارې په کاری دفتر کی بېړنۍ غونډه ونیول شوه، محترم عالمیار صاحب راغلیو مسؤلینو ته ښه راغلاست وویل او د یادې غونډې د ارزښت په اړه یې خبرې وکړې. په غونډه کې د ملی او نړیوالو مؤسسو او سازمانونو استازو، د ریاست دفتر رییس محترم مولوی صاحب فضل الباری جواد، د ماین پکۍ چارو د انسجام او همغږۍ رییس محترم قاری نورالدین رستم خیل، د مقام سکرتر ملا سید احمد عثمانی، د نړیوالو اړیکو آمر برهان الدین شینواری او د دې ادارې یو شمیر آمرینو ګډون درلود.

په دې ناسته کې، د ادارې د دفتر رییس محترم جواد صاحب په مبارکو نبوی احادیثو سره زیانمنو شویو ته د پر وخت رسېدنې د اهمیت په اړه خبرې وکړې او یاده غونډه یې ارزښتمنه وبله.


ورپسې، د نړیوالو اړیکو آمر؛ له یادو پېښځپلو سره د مرستو ترسره کول د داخلی او بهرنیو بنسټونو مسؤلیت یاد کړ، او زیاته یې کړه چې وروستۍ زلزلې د ټول هیواد په کچه په اکثرو ولایتونو کې په ځانګړی ډول په ۳ ولایتونو کې زیات مالی او ځانی زیانونه اړولی دی، نو له همدې امله یې د ټولو بنسټونو څخه غوښتنه وکړه، چې د زلزله ځپلو سره په ۷۲ ساعته کې تاسو د خپلو امکاناتو سره سم اړین کومکونه وکړئ.

په دوام یې، د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ رییس، محترم رستم خیل یادو بنسټونو ته د هر ډول همکاریو د کولو ډاډ ورکړ او د مرستو د ښه مدیریت او شفافیت د رامنځته کولو په منظور یې، د دې ادارې او د ملی او نړیوالو بنسټونو ترمنځ د همغږۍ د زیاتوالی پر اړتیا ټینګار وکړ.

همدارنګه، ملی او نړیوالو بنسټونو د خوراکی، غیر خوراکی، روغتیایی او لنډمهاله سرپناه مرستو د چمتوالی ډاډ ورکړ او ویې ویل چې زلزله ځپلو ته د مرستو رسولو هڅې به د هغوی د کاری لومړیتوبونو په سر کې وی. او د امکان په صورت کی به په ۷۲ ساعته کی د ننه خپل کومکونه ور رسوو.

د غونډې په پای کې، د زلزله ځپلو سره د ستونزو پر بیړنی حل کولو باندی ټینګار وشو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د مالي او اداري عمومي رييس په افغانستان کې د چین هېواد له شارژدافیر سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د مالي او اداري عمومي رييس، محترم الحاج مولوی صاحب محمد علم عالميار د افغانستان لپاره د چین هېواد له شارژدافیر ښاغلی باؤ شوهوی او ورسره راغلیو پلاوو سره د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۸ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه




د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري اوونیزه اداری غونډه د دې اداري د مالي او اداری چارو لوی رئیس په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۰ نېټه د دې اداري په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د کونړ ولایت په بېلابېلو سیمو کې د زلزله ځپلو د لنډمهاله هستوګنې لپاره د خېمو د درولو بهیر دوام لري




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له تېرې ورځې راهیسې، د خپلو شته امکاناتو په کارولو او د همکارو ادارو په ملاتړ، په کونړ ولایت کې د هغو زلزله ځپلو لپاره چې کورونه یې بشپړ نړېدلي او یا د نورو زلزلو له ګواښ سره مخ دي، د لنډمهاله هستوګنې برابرولو په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه د خېمو د درولو بهیر پیل کړی.

د یادې اداري مرکزی او ولایتی کارکوونکی نه یوازې د لټون او ژغورنې د عملیاتو، د ټپیانو د لېږد، روغتیایی خدمتونو، د ګرمو خوړو د وېش او په نورو چارو کې فعاله ونډه لری، بلکې د نورګل، څوکۍ او خاص کنړ ولسوالیو په بېلابېلو کلیو کې د زلزله ځپلو لپاره د لنډمهاله هستوګنې برابرولو هڅه هم کوی، ترڅو د خپلو هېوادوالو لپاره د سرپناه زمینه برابره کړی.

د یادونې وړ ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره ژمنه ده، چې د خپلو همکارو ادارو سره یوځای به زلزله ځپلو ته پر وخت د خدمتونو وړاندې کولو لپاره تر وروستۍ شېبې پورې ولاړه وی.

## د افغانستان د ماین‌پاکۍ پروګرام (MAPA) د شریکانو د لوړې کچې ناسته ترسره شوه



د افغانستان د ماین‌پاکۍ پروګرام (MAPA) د شریکانو د لوړې کچې د همغږۍ ناسته د همکاریو د پیاوړتیا، د نویو معلوماتو د تبادلې، د ستونزو د ارزونې او د مستندو پرېکړو د ملاتړ په موخه د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۱ نېټه د اړونده شریکانو ترمنځ ترسره شوه.
دا ناسته له پېښو سره د مبارزې د ملي ادارې د ماین‌پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست (DMAC) په نوښت او د ماین‌پاکۍ تخنیکی برخې (MATC) په تخنیکی ملاتړ جوړه شوه چې د تطبیق کوونکو ادارو او نورو شریکانو استازو په کې ګډون وکړ.
په غونډه کې د تېرې ناستې پر پرېکړو بیاکتنه، د پوهنې وزارت په ښوونځیو کې د ماین د خطرونو د پوهاوی (EORE) د ادغام په اړه د تازه معلوماتو وړاندې کول، د MATC له لوری د FCDO پروژې جزئیات وړاندې کول، د ملګرو ملتونو په پروژو کې د ماین‌پاکۍ ادغام، د MAPA د سرچینو بسیج، د تطبیق کوونکو شریکانو راپورونه او د عملیاتو لنډیز د بحث اصلی موضوعات وو.
همدارنګه د شریکانو د نظرونو او وړاندیزونو ترلاسه کولو په موخه د پوښتنو او ځوابونو لپاره هم یوه برخه ځانګړې شوې وه. د غونډې په پای کې داکتر ایمل د ټولو بحثونو لنډیز وړاندې کړ او خپله اختتامی وینا یې وړاندې کړه.
یاده ناسته به د شریکانو تر منځ د لا ډېرې همغږۍ، له ماینونو څخه د خوندی افغانستان د جوړولو په برخه کې د ظرفیتونو د یوځای کېدو او د ګډو هڅو د پیاوړتیا لپاره یو ښه فرصت برابر کړی.

## د روسیې فدراسیون لخوا د ۲۰ ټنه خوراکی موادو لومړۍ برخه له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې لوی رئیس ته تسلیم شوه



د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۲ نېټه د روسیې فدراسیون لخوا د ۲۰ ټنه خوراکی موادو لومړۍ برخه له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس ته تسلیم شوه. دغه مرسته د وروستیو زلزلو له امله زیانمنو شویو کسانو لپاره ځانګړې شوې ده او په عادلانه توګه به پر هغوی ووېشل شی.
د دې مرستو د تسلیمۍ په غونډې کې له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی ادارې لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابی، د کلیو پراختیا او بیا رغونې معین، مولوی شرف‌الدین مسلم ، د موادو دتسلیمۍ ټاکلی کیمتی اعضاء او د روسیې فدراسیون سفیر ګډون درلود.
د دغه غونډې پر مهال دواړو لوریو د مرستو پر اهمیت، د افغان ولس اړتیاوو پر درک، او د دواړو خواوو ترمنځ د همکاریو پر لا پراختیا ټینګار وکړ.
ښاغلی ترابی صاحب د روسیې فدراسیون څخه د زړه له کومې مننه وکړه او دغه مرسته یې د افغان ولس لپاره، په تېره بیا د زلزله ځپلو کسانو د ستونزو په کمولو کې یو مهم ګام وباله. نوموړی ژمنه وکړه چې دا مرستې به د وروستیو زلزلو له امله زیانمنو شویو کسانو ته په شفافه او عادلانه توګه ووېشل شی.
همداراز، د روسیې فدراسیون ژمنه وکړه چې ۲۰ ټنه نور خوراکی مواد به هم په نږدې راتلونکی کې راواستول شی، چې هغه به هم د زلزله ځپلو کسانو د اړتیاوو پوره کولو لپاره ووېشل شی.

## د کونړ ولایت په ډیوه‌ګل دره کې د شهیدانو او ټپیانو ۲۳۱ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشل شوې



د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د کار او ټولنیزو چارو ریاست ګډې کمېټې د کونړ ولایت په دیوه‌ګل دره کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۲ نېټه د شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو ۲۳۱ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، د رمضان خیریه بنسټ، د سرای شهزاده د صرافانو ټولنې، د کندهار د ډاکټرانو ټولنې او د حداد فرهاد فرهنګی مرکز مسؤلینو په شتون سره، د هر شهید کورنۍ ته له ۵۰۰۰ څخه تر ۱۰,۰۰۰ افغانیو او هر ټپي ته ۵۰۰۰ افغانیو نغدی مرسته ووېشل شوه.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۸ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې



د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) او د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق (UNFPA) سازمانونو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د همغږۍ پر بنسټ، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو سازمانونو په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۶ نېټه د دې ولایت بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۹۸ زیانمنو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) لخوا هرې کورنۍ ته د پخلنځی یو بشپړ کېټ، د کور جوړولو بیړنی کیټ، یو هایجن کیټ، پلاستیکی فرش، یو د کمپلو کېټ او د ملریزی بریښنا څراغونه وویشل شول. همدارنګه، ۵۰ هغو کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوی وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

د دې ترڅنګ، د UNFPA سازمان له لوری هرې کورنۍ ته ژمنی کیټ (کمپله او ترپال) او ډیګنتي کیټ هم ووېشل شول.

مرسته اخیستونکو کورنیو خوښی وښوده او دې ته ورته د مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار برای ۵۵۷ خانواده کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه کورد اید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت تخار با حمایت مؤسسه متذکره، برای ۵۵۷ خانواده‌ی آسیب‌دیده از حوادث طبیعی در روستاهای زردکمر، عمرخیل، کلفگانی‌ها، توغی قشلاق، مرکز شهر و جرباشی از مربوطات ولسوالی ینگی‌قلعه، پس از انجام سروی، بتاریخ ۶ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند و در حضور مسئولین، به هر خانواده در دور دوم کمک‌ها مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع یک میلیون و ششصد و پانزده هزار و نهصد (۱,۶۱۵,۹۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۱۵۰ باب خیمې د کونړ ولایت زلزله‌ځپلو ته د وېش لپاره ډیوه‌ګل درې ته ولېږدولې




د OTED مؤسسې سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د همغږۍ له مخې، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۲ نېټه د یادې مؤسسې له امکاناتو څخه ۱۵۰ باب خیمې د کونړ ولایت د څوکۍ ولسوالۍ دیوه‌ګل درې ته د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنو سره د مرستې لپاره ولېږدول شوې.

یادې خیمې د مؤسسې له استازو څخه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د پېرنیو پېښو آمر مولوی عبدالهادی همت تسلیم واخیستل شوې او دیوه‌ګل درې ته انتقال شوې تر څو د زلزله‌ځپلو لپاره د لنډمهاله سرپناه په توګه وکارول شي.

د یادونې وړ ده، چې د دې ادارې مرکزی او ولایتی کارکوونکی د یاد ولایت په بېلابېلو زلزله‌ځپلو سیمو کې په بېلابېلو برخو کې د خدماتو په وړاندې کولو بوخت دی.

## د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۱۸ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ARR Japan مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په زنخان ولسوالۍ کې ۴۱۸ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۷ نېټه خوراکی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۲٤،۵ کیلو وریجې، ۷ کیلو بوره، ۸ کیلو لوبیا، ۱ کیلو شین چای، ۱۰ لیتره غوړی او ۱ کیلو مالګه وویشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ آمر، محترم قاری محمد علم خبیب له زیانمنو شویو کورنیو سره د نورو هر ډول مرستو د کولو ژمنه وکړه او په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو له اړوند مسؤلینو څخه مننه وکړه او هغوی ته یې د خیر دعا وکړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۴۳ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی توزیع نمود



بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRDPO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با همکاری تخنیکی مؤسسه متذکره و حمایت مالی برنامه جهانی غذا (WFP)، برای ۴۳ خانواده آسیب‌دیده در مرکز مهترلام و ولسوالی‌های علیشنگ، دولت شاه و علینگار بتاریخ ۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های غذایی توزیع کرد.

در این روند، پس از سروی و در حضور مسوولین، برای هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹.۱ کیلو روغن، ۱ کیلو نمک و ۱۲.۵ کیلو دال توزیع گردید.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۷۳ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماهو محترم دفتر ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱۴۰۴ کال د وږی په ۶مه، ۷مه او ۸مه نېټه د یاد ولایت د سوزمه‌قلعه ولسوالۍ په بېلابېلو کلیو کې ۱۴۷۳ اړمنو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې، ۹۷۰ کورنیو ته چې لږې زیانمنې وې، هرې کورنۍ ته ۱۰۴۰۰ افغانۍ، او ۵۰۳ کورنیو ته چې ډېر زیانمنې وې، هرې کورنۍ ته ۱۲۵۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال شپاړس میلیونه او درې سوه پنځه اویا زره او پنځه سوه (۱۶,۳۷۵,۵۰۰) افغانۍ نغدي پیسې یاد شمېر کورنۍ ته وویشل شوې.

یاد بهیر د سوزمه‌قلعه ولسوالۍ د استازو، د امر بالمعروف ریاست، د اقتصاد ریاست، د سرپل ملي راډیو او تلویزیون او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د استازو په شتون کې په شفاف او منظم ډول ترسره شو.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۲۱۱۸ خانواده مساعدت نقدی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی دفتر محترم هنگری(HIA) در ولسوالی خان‌چهارباغ ولایت فاریاب، پروسه توزیع مساعدت نقدی را برای خانواده‌های مستحق و نیازمند که قبلا آغاز کرده بود، بتاریخ ۷ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق به موفقیت به پایان رسانید.

در این روند، به تعداد ۲۱۱۸ خانواده واجد شرایط، برای هر خانواده مبلغ ۲۹۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع مبلغ شش‌میلیون و یک‌صد و چهل و دو هزار و دو صد(۶,۱۴۲,۲۰۰) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

این پروسه در حضور نماینده ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب، نماینده ریاست اقتصاد و نماینده ولسوالی مربوطه به شکل شفاف، عادلانه و منظم تطبیق شد.

قابل یادآوری است که این مساعدت‌ها در راستای کاهش مشکلات اقتصادی خانواده‌های بی‌بضاعت و تقویت وضعیت معیشتی آنان، گامی ارزشمند و قابل تقدیر محسوب می‌شود.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۸۳ کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په ارغنخوا ولسوالۍ کې ۹۸۳ اړمنو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۹ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲ بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، ۵ لیټره غوړي او نیم کیلو مالګه وویشل شوه.

## د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۹۰ راستنېدونکو کورنيو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست، په اجباري توګه راستنو شويو ۹۰ کورنيو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربيع الاول ۹ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې ۲۵ کيلو وريجې او ۵۰ کيلو غنم ووېشل شول.

د يادونې وړ ده، چې دې کورنيو ته د ياد ولايت د دفتر مقام لخوا نغدي مرستې هم ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۸۳۶ خانواده کمک نقدی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه رازی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس با حمایت مالی مؤسسه متذکره، پس از سروی، برای ۸۳۶ خانواده نیازمند در ولسوالی‌های غورماچ، تگاب عالم و سنگ‌آتش بتاریخ ۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد.

در این روند، با حضور مسئولین، برای ۳۰۹ خانواده به هر کدام ۵,۴۷۸ افغانی و یک بسته خانوادگی، برای ۲۷۳ خانواده به هر کدام ۵,۴۷۶ افغانی نقدی و یک بسته خانوادگی و برای ۲۵۴ خانواده دیگر به هر کدام ۵,۴۷۱ افغانی نقدی و یک بسته خانوادگی توزیع شد. که در مجموع مبلغ ۴,۵۷۷,۲۸۴(چهار میلیون‌و پنج‌صدو هفتادوهفت هزارو دو صدو هشتادوچهار) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د بلخ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۱۶۳۵ کورنيو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د SFL-WFP موسسې ترمنځ د لاسليک شوې هوکړه ليک له مخې، د بلخ ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د يادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولايت د کشنده ولسوالۍ اړوند د وچکالۍ له امله زيانمنو شويو ۱۶۳۵ کورنيو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربيع الاول ۹ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلينو په شتون کې ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال څلور ميليونه او اوه سوه يو څلوېښت زره او پنځه سوه (٤,٧٤١,٥٠٠) افغانۍ نغدې پيسې د ياد شمېر کورنيو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۲۱۸۳ خانواده کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی با حمایت مالی کمیته متذکره، برای ۲۱۸۳ خانواده مستحق در ولسوالی‌های خدیر، شهرستان، سنگتخت و بندر آن ولایت، پس از انجام سروی، بتاریخ ۹ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی توزیع کرد.

در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین مبلغ ۲,۹۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع شش میلیون و سه‌صد و سی هزار و هفتصد (۶,۳۳۰,۷۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

## د کندز ولایت په علي‌آباد ولسوالۍ کې د ګبیونی تحکیماتو د پروژې کار پیل شو

د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله د فرمان پر بنسټ، چې د هر ولایت لپاره یوه پروژه د یو میلیون افغانیو په ارزښت د هستوګنیزو کورونو، کرنیزو ځمکو او عامه بنسټونو د زیانمنتیا د مخنیوی او د وقایوی پروژو د پلی کېدو په موخه منظوره شوې ده، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د علی‌آباد ولسوالۍ په محمدروزی بای میر شیخ کلی کې د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۰ نېټه د ګبیونی تحکیماتو پروژه پیل کړه. دا پروژه به ټولټال د نه سوه نه څلوېښت زره او دوه سوه پنځوس (۹۴۹,۲۵۰) افغانیو په ارزښت، د ۳۷۵ مکعب متره په حجم سره د دوو میاشتو په موده کې بشپړه شي. چې د پروژې په پلی کېدو سره به زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه، کورونه او عامه بنسټونه د سیلاب له خطر څخه خوندي پاتې شي.

د دې پروژې د پرانیستلو په مراسمو کې د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم شفیق الله جواد او نورو سیمه ییزو مسؤلینو شتون درلود.




## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۴ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۹۴ کورنیو ته چې د طبیعی او غیر طبیعی پیښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۰ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، درې بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، دوه بورۍ ۲۵ کیلو وریجې او ۵ تختې کمپلې ووېشل شوې.

## په کونړ ولایت کې ۵۰ زلزله‌ځپلو کورنیو ته ۵ قلمه غیرخوراکي توکي ووېشل شول



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د خپلو یو له کاری شریکانو څخه، د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۲ نېټه د کونړ ولایت په ډیوه‌ګل دره کې د شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو ۵۰ کورنیو ته، ۵ قلمه غیرخوراکي توکي ووېشل.

د مرستو د وېش په دې پروګرام کې د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوی محمد مبین عمر مفتون ووېل، چې نن د هستوګنې لپاره د آغا خان بنسټ سره په همغږۍ د شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو ۵۰ کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشل شوې.

په همدې مهال، د یاد بنسټ د اړیکو آمر شکرالله مدنی ووېل، چې په دې مرستو کې ۵۰ پایې خیمې، ۸۸ تختې ترپالونه، ۵۰ د پخلنځي بستې او ۵۰ د روغتیایي وسایلو بستې شاملې دي.

همدارنګه، د دغو مرستو ترلاسه کوونکو د خوښۍ او مننې تر څنګ ووېل چې زیانمن خلک لا هم نورو مرستو ته اړتیا لري.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۱۵۵ خانواده عودت‌کننده کمک‌های خوراکی توزیع نمود




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۱۵۵ خانواده که از کشورهای پاکستان و ایران تازه به وطن بازگشت نموده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۱۰ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد و ۲۵ کیلو برنج توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۳۵۱۰ خانواده آسیب‌دیده مواد غذایی توزیع کرد




ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با همکاری دفتر محترم هنگری، برای ۳۵۱۰ خانواده در ولسوالی گرزیوان آن ولایت که به دلیل خشکسالی آسیب دیده بودند، پس از سروی، بتاریخ ۱۱ ربیع الاول سال ۱۴۴۷ هـ ق مواد غذایی توزیع نمود.

در این روند، در حضور مسئولین محلی برای هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۵ لیتر روغن، نیم کیلو نمک و ۶.۲۵ کیلو دال توزیع گردید.

# د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۸ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادار او د (UNFPA) او (Save the children) موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې او د IOM سازمان په ملاتړ، د کنړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د څوکۍ ولسوالۍ د دیوه ګل درې اړوند په سپرکو بانډۍ او اندرلچک کلی کې، د ورستی زلزلې له امله ۲۲۸ زیانمنو شویو کورنیو ته، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د ربیع الاول ۱۲ نېټه غیرخوراکی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، د IOM سازمان لخوا ۱ د سرپنا کیټ، ۱ کورنۍ کیټ، ۱ د کمپلو کیټ، ۱ د سولر لایټ کیټ، ۱ باب خېمیه د Save the children موسسې له لوری ۱ د ماشومانو کیټ، ۱ د حفظ الصحې کیټ، ۱ تخته ترپال او د UNFPA موسسې لخوا، ۱ ډیګنیتی کیټ، ۱ MHM کیټ، ۱ تخته ترپال او ۱ تخته کمپلې ووېشل شوې.

**عامه پیغامونه :**

**9. وتړ په احتیاط  چلوئ چې هدف ته ژر ورسېږی چټک تګ مه کوئ چې  د کومې پېښې د رامنځته کیدو له امله دربانډې ناوخته نشی**

**10. ماینونو او ناچاوده  توکو ته لاس مه وروړئ  که چیرې مو کوم ماین یا ناچاوده توکې ولیدل د ماین پاکې مسؤلینو ته ژر تر ژره خبر ورکړئ**

**11. طبیعي پېښو ته چمتووالي نیول د ژوند ژغورنې یو اړین اصل دې**